# د امیر نواز خان جلیا د ''درد'' ډرامې داخلي شهادتونه

**Subjective evidences of the Ameer Nawaz Jalyas Dard Darma**

ډاکټر زبیر حسرت*


**Abstract**:

In ''Khudai Khidmatgaar Tehreek'' drama '' Dard '' by Amir Nawaz Khan Jalya was the most popular drama, which was published in 1931 for the first time and in the same year played on stage at Babara . Due to its revolutionary theme, confiscated by British rulers. All the actors and co-workers arrested and punished. The script of this drama had not been seen . This was Dr. Khalid Khan Khattak , who approached to British Museum London and got its photo copy . According to Dr. Khattak , this drama had been published and played on stage also confiscated in 1932. In 2012 , when Bacha Khan Markaz, Peshawar was going to publish it for the second time , Dr. Khattak research considered accurate. Later on Dr. Javed Iqbal Khattak and Dr. Mia Sohail Insha published their research and critical papers in Bi-Annual ' TAKATOO' , Pashto department, Balochistan University, Quetta. In this current research paper , we had tried our level best to make it much more authentic and updated.


په کال ۲۰۱۲ء کښې مَا د پروفېسر ډاکټر فضل الرحيم مروت (اوسنی وائس چانسلر باچا خان پوهنتون چارسده چې هاغه وخت د ''خيبر پښتونخوا ټېکسټ بورډ پېښور چئيرمېن ؤ)په اهتمام د باچا خان مرکز، پېښور نه د امير نواز خان جليا (زېږون:يکم فروری ۱۹۱۰ء(1) وفات: ۱۲ نومبر ۱۹۷۹ء) ''درد'' ډرامه په دويم ځل چاپ او خوره کړه. دغه ډرامه پروفېسر ډاکټر خالد خان خټک له ځانه سره د لندن نه راوړې وه ځکه چې ''درد'' انګرېزانو ضبط کړې وه او نسخې يې دلته نۀ پيدا کېدې. د ډاکټر خالد خان خټک د وېنا تر مخه دغه ډرامه غالباً په ۱۹۳۲ء کښې اول ځل چاپ او خوره شوې وه او د هغوئ دې خبرې مونږ هم تېر اېستلي وو ځکه نو ما او ډاکټر فضل الرحيم مروت پرې هم د اول چاپ او د ضبط کېدو کال ۱۹۳۲ء ليکلې ؤ. ډاکټر صاحب ته دغه ډرامه د برټش لائبرېرۍ لندن نه په لاس ورغلې وه چې ټول مخونه يې ۴۲ وو او د ۵×۷ انچ سائز کښې چاپ شوې وه.

---

* Director, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada

د ''درد''په دوېم وار چاپ کولو ډاکټر جاوېد اقبال اقبال د شپږ میاشتنۍ مجلې ''تکتو'' د شماره ۷جلد۴/ جنوری – جون ۲۰۱۲ء کښې ''د امیر نواز جلیا د ''درد'' ډرامې یوه څېړنه'' نومې مقاله کښې د دغې څېړنې خبر اخستی ؤ او تر خپله وسه یې هغو ټولو مصادرو او منابعو ته رجوع کړې وه څهٔ چې یې موندلی وو او بیا ورپسې په بله شماره ۸ جلد ۴،جولایی، دسمبر ۲۰۱۲ء کښې ډاکټر میا سُهېل انشاء هم خپل تحقیقات د ''درد'' او خدایی خدمتګار'' ډرامو په حقله تاریخي تېروتنې'' کښې وړاندې کړي وو. دلته اول هڅه کوم چې د ډاکټر جاوېد اقبال اقبال مقالې په نتیجه څو معروضات وړاندې کړم بیا به د ډاکټر سُهېل د مقالې په ځنو برخو خپل بحث وړاندې بیایم.د امیر نواز خان جلیا او د هغهٔ د ''درد'' ډرامې په حقله یې دا نتیجه را ایستلې وه چې:

''د دغه خور وور بحث په نتیجه کښې مونږ وئیلی شو چې ''درد'' ډرامه په کال ۱۹۳۲ء کښې نه بلکې جون ۱۹۳۰ء نه تر دسمبر ۱۹۳۰ء په مینځو مانه کښې لیکلې شوې او ضبط شوې ده خو دا خبره لا مزید تحقیق غواړی چې ذکر شوې ډرامه انګرېز حکمرانانو په کال ۱۹۳۰ء کښې په چاپ شوي شکل ضبط کړې ده کهٔ د مسودې په شکل؟ دې نه علاوه ''درد'' ته د جلیا ایکی یوه ډرامه وئیل محتاطه خبره نهٔ ده ځکه چې ځنو حوالو نه جَوتېږی چې هغهٔ دوه ډرامې لیکلې دي. د ''درد'' نه علاوه د جلیا د بلې ډرامې نوم څهٔ دی؟ او په کومه موضوع لیکلې شوې ده؟ دې لړ کښې د پښتو ادبي تاریخ خاموش دی. د جلیا د بلې ډرامې په حقله هم د مزید تحقیق ضرورت محسوسېږي. دغه ډرامه د خوبیو سره سره فني خامیانې هم لري خو دا چونکې د وړومبي دور طبع زاد ډرامه ده ځکه د عمراني تنقید د اُصولو تر مخه د لیک دور او عمراني حالات هم په نظر کښې ساتل ضروري دي او له دغه زاویې نه چې ''درد'' ته ګورو نو دغه مونږ د خپل دور یوه کامیابه ډرامه بللی شو او بله دا چې د پښتون اولس او خدائي خدمتګارۍ د تحریک اصلي مسئلو د ابلاغ د پاره چې پښتنو ډرامه لیکونکیو کوم کردار ادا کړی دی په هغې کښې د امیر نواز جلیا ډېره اهمه برخه ده او د هم دغه کردار په لړ کښې د هغهٔ ډرامه''درد''د سنګ میل حېثیت لري''(2).

خپله دغه نتیجه کښې جاوېد اقبال اقبال دوه خبرې کړې دي او هغه دا چې ''درد'' به د جون ۱۹۳۰ء نه تر دسمبر ۱۹۳۰ء په مېنځو میانه کښې لیکلې

شوي او ضبط شوي وي او بله خبره يې د امير نواز جليا د دويمې ډرامې هم کړې ده ولې زما تر فهمه چې جاويد اقبال کومې نتيجې د خپلې علمي،تحقيقي او تنقيدي مقالې ليکلونه پس ته را اېستلي دي هغه دواړه ناسمې دي ځکه چې ''درد'' په اول ځل کله چاپ شوي او ضبط شوې وه؟ په دې به وروستو بحث وشي خو اول دغه خبره سپينوم چې جليا خان په خپل ژوند کښې هم دغه يکې يوه ډرامه ''درد'' ليکلې ده او بله ډرامه يې تر اوسه نۀ چرته په کومه رساله يا کتابي صورت کښې چاپ شوې ده بلکې د جليا خان د زوی ميروېس خان نه چې ماته کومه د نظم او نثر شريکه قلمي نسخه په لاس راغلې ده په هغې کښې خو نۀ له سره ''درد'' شته او نۀ بله کومه دوېمه ډرامه. ميروېس خان په ۴مۍ ۲۰۱۳ء د پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسدې ته د خپل بل يو مشر او رشته دار محمد همايون خان په ملګرتيا کښې راغلی ؤ. زما د دې پوښتنې چې:

''جليا خان'' د ''درد'' نه پرته بله کومه ډرامه ليکلې وه؟ په ځواب کښې وئيلي وو چې:

''نه، هغوی هم دغه يوه ډرامه ليکلې ده او که دې لړ کښې کوم محقق څۀ ليکلي وي چې جليا خان دوه ډرامې ليکلي دي نو هسې له ځانه يې ليکلي دي ځکه چې مونږ سره يې هيڅ تحريري ثبوت نشته''(3).

دې کښې چې د پښتو ادبي تاريخ ليکونکيو ته کومې غلط فهمۍ شوي دي، بائد چې د ميرويس خان د دغې ځواب نه پس پرې دويم نظر وځغلوي ځکه چې اوس دا خبره بيخي صفا شوه چې امير نواز جليا هم دغه ايکې يوه ډرامه ''درد'' ليکلې ده او په بله نامه بله کومه ډرامه نۀ لري. له دې وړاندې چې هغه داخلي شهادتونه پېش کړم چې د دې قيصې قضيه پرې ختمېږي د ميا سُهېل انشا (ډاکټر) د ''درد'' او'' خدائي خدمتګار'' ډرامو په حقله تاريخي تېروتنې'' نومې مقاله د مذکوره مجلې په شماره ۸ جلد۴، جولائي – دسمبر ۲۰۱۲ء کښې چاپ ذکر ضروري ګڼم چې د ډاکټر جاوېد اقبال د مقالې د نتيجې څۀ لږه برخه يې پکښې راوړې ده او بيا يې خپل تحقيقي بحث مخ په وړاندې بوتللی دی د ''درد'' متعلق بحث کښې ډاکټر صاحب ليکلي دي چې:

''پۀ دې ډرامه باندې د امير نواز جليا يو ليک'' ضروري خبره'' هم شته په دې کښې ليکوال د نظم په ژبه کښې په مخ ۲۰ باندې ليکي:

د اشفاق تصویر مې سترګو کښې نن ګرځي
ځکه لوند مې دی ګرېوان په اوښکو نم بیا
ځومره سختې نن په بهګت سنګهه تېرېږي
شي پېدا به انډیا کښې داسې کم بیا"(4)

واضحه خبره ده چې اشفاق الله خان پانسي کړی شوی ؤ او د مړ په صفت یاد شوی دی او د ډرامې لیکلو په وخت بهګت سنګهه لا ژوندی او د لاهور په جېل کښې بندي ؤ. اشفاق الله خان او بهګت سنګهه سره د نورو انقلابي ملګریو د ازادۍ په جِدوجُهد کښې خپل کردار ادا کړی دی اول الذکر په ۱۸ دسمبر ۱۹۲۷ء پانسي کړی شوی ؤ او دوېم په ۲۳مارچ ۱۹۳۱ء د خپلو ملګریو سره د پانسي کېدو نه پس د جېل نه بهر د دریاب په غاړه سوځولي شوي وو. ډاکټر سُهېل انشاء دغه ټولې خبرې د زرین فاطمه د کتاب ''سرفروشی کی تمنا اور ''بهګت سنګهه'' کراچۍ چاپ ۲۰۰۹ء په حواله لیکلي دي. ورپسې یې د پروفېسر ډاکټر لعل بها د یوې مقالې ''د اسلامیه کالج پېښور تاریخ، د ښاغلي هنري مارټن د پرنسپلۍ دور'' د (۱۹۲۰ء نه تر ۱۹۳۳ء) چې د میاشتنۍ مجلې ''پُښتو''، پښتو اکیډیمۍ، پېښور یونیورسټۍ کښې د اکتوبر ۱۹۷۸ء شماره کښې چاپ شوې وه، په حواله یو اقتباس خپل دلیل کښې روارِی دی چې د درد ډرامې د لیکلو او د ضبط کېدلو کال ترې ځرګندېږي. چونکې دغه حواله ډېره ضروري ده ځکه نو زهٔ یې هم نقل کول ضروري ګڼم خو وروستو به پرې بحث کوو:

'' په مارچ ۱۹۳۱ء کښې یو ځل بیا د کالج نظم و ضبط ګډوډ شهٔ. د دغه کال د مارچ په درېمه نېټه پولیس د اسلامیه کالج د سېکنډ ائیر امیر نواز نومې یو طالب علم د بغاوت ترغیب ورکونکیو پمفلټ د چاپ کولو په الزام کښې د کالج په احاطه کښې ونیولو. د دې پمفلټ یا کتابګي نوم ''درد'' ؤ چې پښتو ژبه کښې شائع شوی ؤ. په اووم اپرېل د یو حکم تر مخه حکومت د دې کتابګي ټول جلدونه ضبط کړل''

پهٔ دې وجه د یوې محتاطې اندازې مطابق د ''درد'' ډرامې د لیک کال ۱۹۳۱ء کښې د ۳ مارچ نه وړاندې دی او د ضبط کېدو سمه نېټه یې ۷ اپرېل ۱۹۳۱ء ده او ۱۹۳۲ء خو بېخي سمه نهٔ ده"(5).

د ډاکټر لعل بها خبره هم درسته نۀ ده خو په دې د ستائیلو ده چې دغه واقعات يې د تاريخ پاڼو کښې محفوظ کړي دي خو کله چې ما د ميرويس خان نه په دې حقله هم پُښتنه وکړه نو هغوی يې ځواب کښې ووئيل چې دغه دور کښې "درد" هم چاپ شوې وه خو اصل وجه د "درد" پمفلټ يا کتابګی نۀ وه بلکې جليا خان پسې چې پوليس راتلو او د بغاوت په الزام کښې يې نيولو نو هغه واقعه د "اسلاميه کالج د روس کيپل هال" نه د روس کيپل د تصوير راکوزولو الزام ؤ او جليا خان په دغه عمل کښې کامياب شوی ؤ او که نه خو نيولی شوی نۀ ؤ، روپوش شوی ؤ او بيا په مارچ يا اپرېل ۱۹۳۱ء کښې "درد" په باره کښې د فصيح احمد باچا او احمد کاکا په وساطت ستېج کړې شوه چې وروستو پېرنګيانو ضبط کړه او د ډرامې کردارونه يې ونيول او د قېد سزاګانې يې ورته واؤرولې"(6).

د ميرويس خان له دغه ځوابه که يو خوا د ډاکټر لعل بها د "درد" متعلقه پمفلټ خورولو خبره سمه نۀ برېښي بل خوا ترې دا هم څرګندېږي چې "درد" د چاپ کېدو نه پس ستېج شوې ده او د چاپ په صورت کښې ضبط شوې ده او دې خبرې سره د جاوېد اقبال خټک دوېمه خبره هم صفا شوه چې "درد" په چاپي شکل که د مسودې په صورت کښې ضبط شوې وه؟ نو هغه د چاپ شکل کښې ضبط شوې ده. بله اهمه خبره دا ده چې ډاکټر لعل بهايې د ضبط کېدو تاريخ ۷،اپرېل ۱۹۳۱ء ليکلی دی حالانکې د ضبط کېدو تاريخ يې په ۱۲ اپرېل ۱۹۳۱ء د فوج له خوا د بابړې، چارسدې او د پړانګو د محاصرې کولو نه پس د خدايي خدمتګارو نيولو نه پس او پرې د مقدمه چلېدو او د سزاګانو اورولو نه پس ته ضبط شوې ده، چې وروستوپرې تفصيلي بحث راروان دی. ډاکټر سُهېل انشاء خپله مقاله کښې وړاندې د "انګار" اخبار ۱۹۳۱ء نه د "ګدا" نومې فرضي شاعر يو نظم متعلق ليکلی دی چې:

"ياده دې وي چې په کال ۱۹۳۱ء کښې د جليا په ادارت کښې يو اخبار "انګار" خپرېدو. د دې اخبار يوه ګڼه کښې (د ګڼې د اشاعت تاريخ نۀ ښئ) يو شاعر د ګدا په فرضي نوم د دوي پلار ته د زامنو د قربانو په وجه داسې خراجِ عقيدت پېش کړی دی"

بيا د ظالم د ظلم نخښه اکبر پوره شوله
پهٔ سنګينونو کښې راګېره بې قصوره شوله
بيا جېل ته لاړل په سيالۍ سره فدا او نثار
مبارکي قاضي صاحب ته اوس ضروره شوله"(7)
نوجوانان د سرحد نهٔ اوړي خبر شه کېږو"(8)
يو ځل به واؤرمه چې مور دربانديې بوره شوله
د ازادۍ ناوې له مهر کښې سرونه ورکړئ
چغه په خُلهٔ د هر زلمي د حبيب نوره شوله
ګدا صدا کړي چې به زاغ کړمه بهر ورځنې
د ازادۍ باغچه په وينو اوس ماموره شوله

"د دې اخبار د اشاعت کال سهواً ۱۹۲۱ء ليکلې شوی دی کوم چې سم نهٔ دی. هم په دې رساله کښې وړاندې دا کال ۱۹۳۱ء وښائي"(9).

ډاکټر انشاء دغه نظم نيغ په نيغه د "انګار" اخبار حواله نهٔ ورکوي، چې هغې ته يې رسايې نهٔ ده شوې ځکه يې دغه نظم د عبدالمنان درد مند "د خپلواکۍ تړون" کابل، ۱۳۴۸هـ ش په حواله ليکلی دی.

زما د معلوماتو تر مخه دا نظم هم د "جليا" دی ځکه چې لکه وړاندې يې وئيلي دي چې د ميروېس خان (د جليا خان زوی) نه چې ماته کومه قلمي نسخه د نظم او نثر په لاس راغلې ده،هغه قلمي نسخه دغه نظم لري او د هغې په مقطع کښې د "ګدا" په ځائې "جليا" ليکلی شوی دی.

د دغه ټول بحث نه دا نتيجه راوځي چې امير نواز خان جليا د يو انقلابي ذهن مالک ؤ چې د ازادۍ په جِدوجُهد کښې يې خپل فعال کردار ادا کولو او په دغه لړ کښې يې "درد" نومې ډرامه اولنی کاوش ؤ چې زما په خيال د يوې محتاطې اندازې مطابق د (جنوري – فروري ۱۹۳۱ء) مينځ تر مينځه چاپ شوی ؤ او په مارچ کښې يې تقسيمول او خرڅول شروع شوي وو.

## داخلي شهادتونه:

ما چې د کومو داخلي شهادتونو خبره کوله هغې ته نۀ خو ډاکټر جاوېد اقبال او نۀ ډاکټر سُهېل انشاء رجوع کړې ده او هغه داخلي شهادتونه د احمد کاکا "خدايي خدمتګار" (وړومبی ټوک )او د عبدالغفار خان باچاخان"زما ژوند او جِدوجُهد" دي چې د "درد" د سټېج کېدو او ورپسې د راتلونکيو واقعاتو تفصيل يې د تاريخ پاڼو ته سپارلی دی. زۀ يې د هغوی له کتابونو د ليکونکيو او لوستونکيو د ذهنونو د شکونو لرې کولو په غرض ترې ځينې اقتباسونه رانقل کوم چې دا قضيه صفا شي او زمونږ سياسي او ادبي تاريخ درست شي.

احمد کاکا د"درد" ډرامه په بابړه کښې" تر عنوانه ليکلي دي چې:

"پۀ دغه دوران کښې د اُتمانزو امير نواز خان جليا يو تعليم يافته زلمی او د اُتمانزو کلي د برنو خانانو د کورنۍ نه ؤ ډېر ښۀ ويښ دماغ، ښۀ صورت شکل وشهامت (اصل ټکی "شُباهت" دی خو سهواً "شهامت" ليکلی شوی دی) او ښه وضع يې لرله. د دې ټولو صفتونو سره دی يو د اوچتې پايې شاعر ؤ او قام سره يې مينه لرله. په دغه وخت کښې د هغۀ ټول حالات او اصلي واقعات په اصلي رنګ کښې راغونډ کړل چې د يو ورکوټې کتابچې په شکل کښې نظم او نثر کښې ليکلې شوې ده. قام ته يې "درد" نومې کتابچې په نوم وړاندې کړل. دا کتابچه چې "درد" نوم يې ؤ او په پښتو ژبه کښې ؤ. په دې کتاب کښې چې پېرنګيانو خدايي خدمتګارو سره څۀ کړي وو، يو په يو لوی ورکوټي هغه ټول حالات درج وو. يو خو دا کتابچه په پښتو ژبه کښې وه. بله دا چې هغه ټول تازه او نوي واقعات چې په چا تېر شوي وو او هر چا ليدلي وو نو په دې وجه دې کتاب ډېر مقبوليت حاصل کړو. يو خو ژبه، بل تازه ليدلي کتلي او تېر شوي واقعات، بل د جليا د ادب بالکل د پښتو يو شاهکار ؤ، د دې کتابچې قيمت دوه انې اېښودلی شوی ؤ. د هر چانه به دوه انې اخستلی شوې. د دې د خرڅولو د پاره ګل رحمان دکاندار د ساپر خېلو، د هغۀ فضل الرحمان مشر ورور چې د شراب خانې په وړومبي پکټنګ کښې يې په خپله ځرمن سور رنګ مړلی ؤ او جانسن ورنه پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ وې دا ځکه چې تاسو به سرې جامې زمونږ نه وښکلې

نو مونږ ځرمنې سرې کړې چې اوس دا وباسئ. جانسن يې حېران که نو ګل رحمان او احمد دا کتابچې اوړې وې او د پړانګو په حجرو يې ګرځولې"(10).

احمد کاکا د "درد" د ستېج کېدو د پوره انتظامات درج کړي دي چې دلته ترې د خپل مطلب ټکيو ته رجوع کولی شي.

"دا کتابونه خرڅېدل خلقو ډېر په شوق اغستل او ډېره جذبه يې په خلقو کښې پېدا کوله بيا احمد د بابړې د دې ډرامې د ستېج کولو د پاره تيارې د څو کسو ملګرو په اصرار او امداد اوکه په دې انتظام کښې هدايت الله ډېر کار کړې ؤ او مالي امداد نه علاوه د هغهٔ په حجره کښې دا ټول انتظام کېدلو فېصله او پروګرام جوړ شو د ډرامې د پاره د ضرورت سامان،اداکاران او پوليس، فوج او خدايي خدمتګار او ځاې پېدا شو. دا ټول تيارى وشو اداکاران هم خوښ کړى شو دوه قسمه اداکاران يو هغه چې هغوي به هغه حصې ښايې چې هغه نثر دى چې هغه د ډرامې بنيادي حصې دي، د هغې د پاره د قابلو تعليميافته زلمي پکار وو. او د اوازونو ښايسته والی پکښې هم مد نظر وساتلې شئ. بل د پوليس افسران او عام سپايان، د سي،آئي،ډي د پاره او د جېل ملازم د اسسټنټ کمشنر او پوليس جرنېل د پښتون او د هغهٔ ښځه او دوه بچي زنانه او د کلي ټوډي خان دا ټول خوښ کړی شو.

د پښتون پارټ: حريف ګل د بابړې، د پښتون ښځه: حکيم ظهور الله د بابړې، د پښتون دوه زامن:حبيب الله او احسان الله د بابړې، اسسټنټ کمشنر:سيد محمد فصيح د بابړې، پوليس جرنېل:سيد محمد فصيح د بابړې، پوليس تهانېدار:حکيم ظهور الله د بابړې، سي،آيی،ډي: صالح دکاندار د بابړې،ټوډي:احمد د بابړې، د جېل ملازم:احمد د بابړې، جلاد: رحيم ګل شېخ د بابړې، زمانه د زنانه په رنګ:عبد الحنان بجلي د چارسدې،فوج باقاعده فوجي وردي: ۵۰ کسه خدايي خدمتګار د بابړې، پوليس په خپله وردی کښې: ۳۰کسان د بابړې، خدايي خدمتګار: ۲۰ کسه پړانګ ساپرخېل او بابړه،معافي دار:اشرف الدين،اولدين،فضل رباني،کار خاص د تهانې سپائي:محمد زرين مشهور په خليفه،امداديان:نورشاه باچا د ګيدړ، د اتمانزو عبد الغفور، اعلان کننده:عبدالمالک استاد،د ستېج منتظم:هدايت الله د

بابړې،امداد:خان محمد د ساپرخېلو،د جلسې صدر:مطيع الله باچا د بابړې،د خدايي خدمتګارو د کمان مشر:سالار انځر ګُل.

## د مال او سامان امداديان:

وردي ايتا جوړې د سکاوټ:محمود استاد د چارسدې،سوټونه او فوجي لباس:محمد اشرف دراني،ټوپکي او سنګينونه:عبدالحليم، غياث الله او رحمت شاه،د پوليس پټکي د پوليس يو سپائي: د پړانګو د تهاڼې،د پارټونو انتظام:د عبدالصمد منډهي.

د ډرامې ستېج: د اول نه د ډرامې د جلسې د پاره د بابړې مېنځ کښې يو ډاګ ؤ چې اوس پکښې د محمد رفيق، د محمد غياث الدين، د علي اکبر او د حاجي عثمان او د محمد اياز دوي کورونه دي. دا يو ډېر لوی ډاګ ؤ، دا خوښ شوی ؤ د مېدان په مېنځ کښې يو لوی ستېج جوړ ؤ. د عبد الصمد د منډهی نه به په نمبر نمبر کارکوونکي راوتل او بيا به د پوليس د منډهی په دروازه وتل. د ټولو نه اول عبد المالک أُستاذ خلقو ته ووئيل چې دا ډرامه ده جلسه نۀ ده په دې کښې چغې مۀ وهئ. د اول نه د صدارت کرسی مطيع الله باچاته ورکړې شوه"(11).

"پۀ کپېټن بارنس باندې حمله: کپېټن بارنس د چارسدې اسسټنټ کمشنر ؤ، يوه بجه د شپې د هغۀ په کور چا حمله وکړه. د هغۀ سنتريان ويښ وو دواړو جانبانو په يو بل باندې ډزې وکړې سحر له بارنس لاړو پېښور ته او ډپټي کمشنر ته يې ووې چې بابړه کښې بېګا د شپې د حکومت خلاف ډرامه شوې ده او په هغې کښې هومره اشتعال انګېز تقريرونه او نظمونه وئيلې شوي دي، هغې دومره اثر کړی ؤ، چې د ډرامې نه ښخ خلق زما په بنګله راغلل خو سنتريان وېښ وو ډزې ورباندې وکړې او بيا وتښتېدل ډپټي کمشنر د چيف کمشنر په حکم، احمد شاه ميا راؤغوښتلو، ورته يې ووې چې تاسو بېګا وعده ماته کړله او زۀ به تاسو نيسم. احمد شاه (بېرسټر) ورته جواب کښې ووې چې مونږ نه ده ماته کړې وې چې نه ماته به ليکلې راکړې او د دغه کسانو نه به بېزاري وکړې. احمد شاه ميا ورته ليکلي ورکړۀ ډپټي کمشنر بارنس ته حکم ورکړو. هغوي وارنټونه وښکل او په دولسم اپرېل د شپې د ۱۹۳۱ء کال بابړې ته ډېر فوج راغی ارمړ

کارونه او لاری ډېر تعداد کښې د پړانګ، چارسدې چاپېره مقبره کښې پرېوتل او پولیس واله کلوته رانتوتل. دا لاندې لیکلي شوي کسان ګرفتار کړې شو. سید محمد فصیح، حریف ګل، احمد، سید مطیع الله، محمد صالح، حبیب الله، احسان الله، عبد الحنان بجلي، عبد الغفور، په اُتمانزو کښې سید میا نور شاه ،پهٔ ګیدړ کښې عنایت الله، مردان کښې شېر او رحیم ګل په سباله ګرفتار کړی شول. داسې ړنده کهاته وه چې عنایت الله ناجوړه سترګې یې خوږ په مردان کښې ۀ خو ړومبنې سور پوش ۀ نو د هدایت الله په ځائې یې عنایت الله ونیولو.ګرفتار شوي کسان یې پېښور سنټرل جېل ته ورسول. خدایي خدمت ګاران چې خبر شو نو هغوي ډېر خفګان څرګند کړو چې میا احمد شاه او جعفر شاه ولې دومره کمزوري کړې ده. خبر د پولیس ریمانډونو نه روستو کېس. ستې مجسټرېټ پېښور ته ولېږلو مېجر عبد الرحیم د زېدي کلي ۀ هغهٔ سره د میا احمد شاه حاجي په وېنا باندې یو ډیفنس کمېټې جوړه شوه په دې کمیټې کښې پیر بخش وکیل، عبد الرب نشتر، بېرسټر عبد الغفور خان د پړانګو، ارباب تاج محمد خان د تهکال، ارباب عبد اللطیف خان د لنډې او دغسې نور هندوان په دې کښې شامل وو. عبد اللطیف خان د دوي سپیکر ۀ د استغاثې د طرف نه غلام سرور خان د دوه سرو پبلک پراسیکیوټر د دوه سرو ورسره ۀ، مقدمه وچلېدله د دې ډرامې دومره مشهورتیا وشوله چې د پنجاب اخباراتو به روزانه لیکل او په دغه ورځو کښې د خدایي خدمتګارو یو اخبار د انګار اخبار په نامه د پېښور نه روزانه وتلو .د دې اخبار مالک امیر نواز جلیا ۀ چا چې دا ډرامه لیکلې وه. دهٔ به روزانه په غټه سرخې لیکل:

"*ڈرامہ درد کا کھیل عدالت کے سٹیج پر*" په دولس کسانو باندې کېس چلېدو. شپږ کسان د ډپټي کمشنر په قلم باندې سزاوار شو. دفعه ۱۴۲ الیف ۱۱۵/۳۰۲+۱۰۹اخیر کښې ۱۰۹ ماته شوه. او ۱۲۴او ۱۱۵/۳۰۲ کښې درې درې کاله سید محمد فتح، حریف ګل، عبد الغفور، سید نور شاه او احمد ټول شپږ شپږ کاله قېد شو .فېصله خلاف اپیل دائر شو خان بهادر سعد الدین ایډیشنل کمشنر ۀ او یو انګرېز ۀ ډاکټر عالم د لاهور یو مشهور وکیل او ورسره یو بل ملګری راغلو دوي د اپیل پېروي وکړه۱۱۵/۳۰۲ ماته شوه. احمد او

حريف گل بري شو. په دغه ورځو کښې ارباب محمد اسلم د انګار اخبار ايډيټر ونيولی شو"(12).

د احمد کاکا د دغه پوره تفصيلاتو او په ډرامه د خپلې تبصرې او نېکو جذباتو او ښو خواهشاتو د اظهار نه پس شائد چې اوس د پښتو ادب لوستونکي محققين او محصلين قانع شوي وي او پوره نقشه يې په ذهن نقش شوی وي چې د امير نواز خان جليا ''درد'' د جنوري او فروري مينځ تر مينځه په کال ۱۹۳۱ء کښې اول چاپ شوې او د هغوی د وېنا مطابق چې په ۱۲ اپرېل ۱۹۳۱ء بابړې ته فوج راغلی ؤ نو يقيناً چې د ''درد'' د ستېج کېدو صحيح تاريخ د ۱۲ اپريل ۱۹۳۱ء نه وړاندې دی د جليا صاحب د زوم بديع الزمان د يو اُردو مضمون ''امير نواز خان جليا پختون قوميت، صحافت اور ادب کا بے باک علمبردار'' کمپوز شوې مسوده فوټو کاپۍ ترمخه چې ماسره پرته ده:

"محکمہ آرکایوز پشاور میں سی آئی ڈی کی خفیہ رپورٹوں میں جو اس محسن قوم کی مجاہدانہ اور کامیاب انگریز دشمن سرگرمیوں کے تذکرے سے بھری پڑی ہیں، مندرج ہے کہ:"۔۔۔(بابڑہ) میں ۲۴ اور ۲۵ مارچ ۱۹۳۱ء کی درمیانی رات کو تمام آزادی پسندوں کا ایک اجلاس ہوا۔ اس اجلاس میں جلیا کا ایک ڈرامہ سٹیج کیا گیا جو امیر نواز جلیا کے شائع کردہ کتابچے "درد" کی کہانی پر مبنی ہے۔ اس میں موصولہ اطلاعات کے مطابق دو تا تین ہزار افراد شریک ہوئے۔ یہ ڈرامہ رات سوا ایک بجے ختم ہوا۔ ڈرامے سے لوگوں کو آزادی کا درس دیا جارہا ہے"۔ ایک دوسرے موقع پر مندرج ہے کہ "۔۔۔اطلاع ملی ہے کہ امیر نواز جلیا موضع کافور ڈھیری اور شب قدر کے راستے اپنے کتابچے "درد" کو آفریدی اور مہمند اقوام میں پھیلانے کے کوششوں میں مصروف ہے"(13)۔

د بديع الزمان د مضمون په دغه پورتني اقتباس کښې د ''درد'' په ستېج د ښئيلو تاريخ د ۲۴ او ۲۵ مارچ مينځنۍ شپه ليکلې شوې ده چې صحيح بربښي ځکه چې د سي آئي ډي له خوا رپورټونه هم په هاغه وخت لېږلی شي نو په دغه بنياد د ډرامې ''درد'' د ستېج کېدو صحيح نېټه د ۲۴ او ۲۵ مارچ مينځنۍ شپه ده او له هغې پس ته هم جليا خان ''درد'' د کافور ډېرۍ او شبقدر په لار مومندو او اپريدو کښې خوروله خپل مضمون کښې بديع الزمان هم په دغه ۳مخ د CID د رپورټ باوجود چې د ډرامې د ستېج کېدو تاريخ يې د ۲۴او ۲۵

مینځنۍ شپه لیکلی دی بیا هم د احمد کاکا مُطابق دغه تاریخ "۱۴اپرېل ۱۹۳۱ء" لیکلی دی چې یوه فاش غلطي ده ځکه چې احمد کاکا د "درد" د سټېج کیدو تاریخ هډو لیکلی نهٔ دی بلکې ۱۲ اپرېل ۱۹۳۱ء یې د بابړې، چارسدې او پړانګو محاصره لیکلې ده او چې د ۲۴ او ۲۵ نه راپه دې خوا تر ۱۲ اپرېل ۱۹۳۱ء رارسو نو یقیناً چې په انوسټیګېشن به دومره ورځې خو لګیدلی وي چې په نتیجه کښې یې د ډرامې کارکنان وو هم نیولی شي، مقدمه پرې وچلېږي او سزاګانې ورته واؤرولې شي. او د احمد کاکا خبره په دې دلیل قوي ده چې هغهٔ په خپله دغه "درد" په اولس کښې خور کړی هم دی او د اداکار په طور یې پکښې کار هم کړی دی ځکه نو هغه په دې مقدمه کښې د موقعې د "چشم دید ګواه" حېثیت لري.

عبد الغفار خان (باچا خانؒ) خپلې سوانح عُمرۍ "زما ژوند او جِدوجُهد" کښې لیکلي دي "بابړه کښې ډرامه او زمونږ کمزوري ملګري" تر عنوانه لېکلي دي چې:

"څومره چې به حکومت زمونږ سره سختي کوله هومره به زمونږ خلق پوهېدل او اوچتېدل او څومره چې به زمونږ تحریک ترقي کوله او خدایي خدمتګارزیاتېدل هومره به حکومت خپل زور او ظلم زیاتولو. د چارسدې او بابړې بعضې ماشومانو هسې د ټوقو یوه ډرامه وکړه لېکن حکومت خو بانه لټوله. زهٔ په دوره وم. ډپټي کمشنر زمونږ سکتر عبد الاکبر (خان اکبر) او احمد شاه (بېرسټر) او عبد الله شاه وغوښتل او په دوی یې دومره رُعب واچولو چې عبد الاکبر خان د ډرامې والاو نه خپله بېزاري څرګنده کړه. دا جرات یې ونهٔ کړو چې ډپټي کمشنر ته یې ویلي وې چې دا خو د هلکانو لوبه وه، داسې لوبې هلکان ټول عمر کوي خو حکومتونه دومره اهمیت نهٔ ورکوي. حکومت ته چې زمونږ کمزوري معلومه شوه نو فوراً بله ورځ یې چارسدې ته فوجونه او توپې راولېږل او د ډرامې هلکان یې ګرفتار کړل او فوجونه یې د پړانګو، بابړې او چارسدې په کوڅو کښې ورخوشې کړل. بله دا چې په یوه عامه جلسه کښې د چارسدې په جامع مسجد کښې میا احمد شاه په دې هلکانو ملامتیا ووئیله او خپله بېزاري یې ترې ظاهره کړه چې د دې نتیجه دا شوه چې حکومت هغوی ونیول او یو یې یو کال او دوه یې دوه نیم کاله په دې دومره معمولي خبره قېد کړل. زهٔ چې د دورې

نه واپس راغلم نو پړانګو، بابړې او چارسدې ته لاړم خلق مې جمع کړل او د صبر تسلۍ یو تقریر مې ورته وکړو او د حکومت په دې قسم پالیسۍ مې نکته چیني وکړله چې دا خو د هکانو یوه ټوقه وه حکومت ترې بوقه جوړه کړه. زمونږ خلقو کښې چې خفګان او مایوسي پېدا شوې وه، هغه لرې شوه او تسلي یې وشوه"(14).

بدیع الزمان خپله مذکوره مقاله کښې د باچا خان دغه خبرې ته ډېر په خندني انداز کتلي دي او په دېو کلماتو یې ډېره سطحي طور خبره کړې ده چې د باچا خان لوې او عظیم شخصیت پرې نۀ خو راغورځېږي او نۀ کمېږي.هغۀ ورله یو قسمه د خانداني او ذاتي دښمنۍ رنګ ورکړی دی او دا خو ټولې دنیا ته پته ده چې باچا خان خو د دښمنو تربګنو سړی نۀ ؤ بلکې هغۀ خو به مُدام دغه دښمنۍ او تربګنۍ هوارولې او خپل قام اولس ته به یې د ډلو او پرو جنبو ختمولو درس ورکوو هغه خو مصلح ؤ نۀ رخنه ګراو نۀ شر خوښی ؤ. بدیع الزمان پۀدې خبره هډو سوچ نۀ دی کړی او د بعضِ معاویه په مصداق یې لیکلي دي چې:

"یہاں پختونوں کے عظیم علمبر دار باچاخان کا انصاف بھی ملاحظہ ہو جو اپنی خود نوشت میں لکھتے ہیں کہ "۔۔۔جب میں کراچی سے واپس پہنچا تو سکول کے بعض طلباء کی طرف سے بابڑہ میں سٹیج کردہ ایک معمولی ڈرامے کا تنازعہ اٹھ کھڑا ہوا تھا۔ میں نے ڈپٹی کمشنر سے ملاقات کرکے ان پر واضح کیا کہ بچے اس طرح کے کھیلوں کے عادی ہوتے ہیں"۔ حالانکہ در حقیقت اس واقعہ پر پورے چارسدہ میں ڈرامے کے شرکاء کو گرفتار کیا گیا بابڑہ کو بھی فوج نے گھیرے میں لے لیا تھا۔ ستم ظریفی یہ ہے کہ ایک محبِ قوم نوجوان کو اپنا ہی لیڈر طالب علم اور بچہ اور اس کے ڈرامے کو اس کے اثرات سے قطعہ نظر نام ظاہر کئے بغیر محض ایک معمولی ڈرامہ قرار دے رہے ہیں۔شائد اس میں بھی اس کا خاندانی اور ذاتی عناد کار فرما ہو کہ ڈرامے اور جلیا کے حقیقت پسندانہ تذکرے سے اس کا اپنا امیج بھی متاثر نہ ہو اور جلیا کی ثمر آور شخصیت بھی آشکارہ نہ ہونے پائے"(15).

نو کۀ په قامي طور دې رایې ته وکتلې شي نو زما خیال دی چې هیڅ څوک به ورته د باچا خان په خبرو فوقیت ور نۀ کړي باچا خان چې کومه هڅه کړې ده هغه یې د خپلو بچو د پېرنګي نه د بچ کولو په غرض کړې ده او د خپلو ځنو نزدې ملګرو د مخونو نه یې هغه پردې هُم پورته کړي دي په کومو پردو کښې چې

هغویٔ ځانونه رانغښتي وو او ملامتیا یې پرې وئیلې ده، یو په یو یې په نامو یاد کړي دي او خپله غاړه یې خلاصه کړې ده ځکه چې عظیم باچا خان خو د ډېرې لویې او سرې سینې مالک ؤ هغوی ته د خپلو ملګرو د دغه ډرامې (عمل) نه د بې زاره کېدو او کمزوري ښئیلو باندې یې غندلي دي چې په نتیجه کښې یې د ډرامې کارکوونکي هم ونیولي شو او سزاګانې ورته هم واؤرولې شوې، یقیناً چې دغو زړو خدایي خدمتګارو له دومره بې خوندي کول نۀ وو پکار.

دې ډرامه کښې یو مقصد او پېغام هم د قیصې او واقعاتو سره سم ضم شوی دی او دغه مقصد او پېغام د عظیم انسان باچا خان د افاقي افکارو او تعلیماتو مقصد او پېغام ؤ چې خپل پښتون اولس ته یې ورکول غوښتل، دوي له یې خپله ژبه کښې تعلیم ورکولو سره سره دوي کښې هاغه قامي جذبه هم راپاروله چې د پېرنګي استعمار د غلامۍ د جغ نه خپل ځتونه خلاص کړي او ورسره دا هم چې پُښتانۀ فضول خرڅونه او غلط رسمونه رواجونه پرېږدي ځکه چې هم د دې د لاسه یې کورونه وران وېجاړ شوي دي او دا چې خپلو کښې دښمنۍ او تربګنۍ ختمې کړي وروڼه شي او اتفاق او اتحاد پکښې پېدا شي. دا یوه شعوري هڅه وه چې باچا خان د عدم تشدد په ذریعه کوله خو بل پله جلیا خان دې ډرامه کښې د زوي (کردار) په خُلۀ دا وایې چې "ماله تماچه راکړه چې د پېرنګي نه د پلار بدل واخلم" دغه جمله د جلیا خان په انقلابي فکر دلالت کوي چې هغه څۀ خو د عدمِ تشدد خلاف ؤ او لکه د حاجي صاحب د ترنګزو او کاکا جي صنوبر حُسېن مومند د لارې لاروی یې ثابتوي په هر حال "درد" ډرامه د خپل کوټلي پلاټ، ژوندو کردارونو، سوچه پښتو ژبې سره د پښتون د المیو نه یوه المیه ده چې د بهګت سنګهه او اشفاق شهید او د هغوي د انقلابي ملګرو تذکره پکښې هم د جلیا خان په شعرونو کښې څرګنده ده او جلیا صاحب که یو پله درد ډرامه په نثر کښې لیکلي ده نو بل خوا یې پکښې قامي او مقصدي شاعري هم کړې ده او د خپلو نظمونو سره یې پکښې د خان میر هلالي ارباب محمد اسلم خان شرر او عبد الکریم مظلوم ځینې شاعري هم د موقعې مناسبت سره شامله کړې ده او دا د هغه وخت د اولنو ډرامو یو دلچسپ او ناویاته خاصیت او نمونه وه چې منظومات به پکښې هم د کردارونو په ژبه بیانېدل.څنګه چې یوناني، مصري،هندي،چیني او انګرېزي پخوانۍ ډرامې وې چې د نظمونو او کورسونو

په شکل کښې به پکښې شاعري هم موجوده وه او ځینې مکالمې به یې په شعرونو کښې وې بیخي هم دغه تېکنیك د هغه وخت ټولو ډرامه نګارانو لکه عبدالاکبر خان اکبر، عبدالخالق خلیق، فضل الرحیم ساقي، عبد الله جان اسیر او قاضي رحیم الله وغېره د جلیا خان په شمول پکارولی دی او چې په اوسني تناظر کښې ورته ګورو نو مونږ ته د خپل ماضي یو داسې یاد چې د غم او الم، درد او کرب نه ډک دی، رایادوي او مونږ خپل تېر شوي تریخ تاریخ پله بیائي او په دې مو خبر وي چې د وطن د ازادۍ د حصول د پاره اولس څنګه قربانۍ ورکوي ځکه نو د امیر نواز خان جلیا دا زیار "درد" ډېر د ستائیلو دی او په دې هم ډېر اهم دی چې دا زمونږ د پښتون قامي تحریک د زنځیر یوه ورکه کړۍ ده چې په جنوري۔ فروري ۱۹۳۱ء کښې لیکلي او چاپ شوې وه او په اپرېل ۱۹۳۱ء کښې په سټېج د ښئیلو نه پس په کتابي صورت کښې ضبط شوې ده.

په هر حال "درد" د هغه دور او حالاتو پېداوار دی چې:د ازادۍ ننګیالی "اشفاق" شهید کړی شوی ؤ بهګت سنګهه د لاهور په جېل کښې د ننګ او عزت مرګ ته تیار ناست و ۀ او په "قیصه خوانۍ" کښې د ګولو باران ورېدلی ؤ او سړك یې د تش لاسو شاه زلمو وروېو، خوېندو، ماشومانو او بوډاګانو په سرو وینو تك سور شوی ؤ او په "ټکر" کښې مشینونو نه چلېدلې وو او ؤنو پانې رژولې وې، د ظالمانو د ظلمونو حد تمام شوی ؤ.

په ګوجرو ګړهۍ مردان کښې د خدایي خدمتګارو په پُر امنه جلوس یو ناتار جوړ شوی ؤ او "مستړهی" پکښې د پښتنو او "مرفي" پکښې د ګوجرو ګړهۍ د یوې پېغلې د اوبو ډك منګي ګوزارونه خوړلي وو نو دا د کال ۱۹۳۰ء واقعات دي او "درد" هم د داسې ناقلاره حالاتو پېداوار دی او هغه د رحمان بابا خبره چې:

دا د ستور دی چې له درده زوېرګی خېژي
ګڼه څۀ وو د رحمان له شاعرۍ"(16)

که د پېرنګیانو او د هغوي د برېځو دغه زورونه، ظلمونه، تېري او زیاتې نۀ وو نو د امیر نواز خان جلیا "درد" به هم نۀ ؤ چې له قلمه یې لکه د زوېرګي او تور لوګي راپورته شوی دی.

امير نواز خان جليا د ډېرو زياتو علمي، ادبي، سماجي او سياسي غُرزو پُرزو نه پس په ۱۲ نومبر **۱۹۷۹**ء په ځان پور خلاص کړۀ او د اتمانزو هدېره کښې خاورو ته وسپارلی شۀ. په ګور يې نور شه. (امين).

***

# حوالې

(1) د اسلامیه کالجېټ د داخل خارج رجسټر کښې د امیرنواز خان جلیا کوائف دا رنګ درج دي چې د هغوی د پېدائش صحیح تارېخ ترې هم په ګوته کېږي چې تر اوسه ټولو محققینو او لیکونکیو زما په شمول ۱۰،مارچ ۱۹۱۰ء لیکلی دی. د تفصیل اجمال ئې دا دی:

دَ داخلې تاریخ ۱۹۱۸. ۰۴. ۱۸ (اتلسم اپرېل نولس سوه اتلس)، دَ طالب علم نوم: میرنواز خان، سلسله نمبر:۱۸۹، دَ پېدائش تاریخ: یکم فروری اُنیس سو دس (۰۱. ۰۲. ۱۹۱۰)، دَ پلار نوم: محمد اکرم خان، قوم/ذات:افغان، پېشه: مال ګُزاري، سکونت:اُتمانزئ، کوم جماعت کښې داخل شه: دریم، دَ فیس شرح: ۱۲/، کوم جماعت کښې ئې مدرسه پرېښوه: څلورم (یاد دې وي چې اسلامیه کالجېټ کښې کوم هلکان داخلېږي نو یوکال وروستو کولی شي، ځکه نو جلیا خان هم څلورم جُماعت کښې مدرسه پرېښې وه او په کالجېټ کښې په دریم کښې داخل کړې شوی دی). کوم کال کښې ئې مدرسه پرېښوه:۱۰۱۸. ۰۴. ۰۱، کېفیت: پروموټډ (promoted)

(2) اقبال، جاوېد اقبال، "د امیر نواز جلیا د "درد" ډرامې یوه څېړنه". مقاله مشموله:"تکتو" پښتو څانګه، بلوچستان یونیورسټي، کوټه، شماره ۷جلد۴، جنوري /جون ۲۰۱۲ء، مخونه ۹۹،-۱۰۰

(3) میروېس خان د امیر نواز خان جلیا (مرحوم) مشر زوی، سره خبرې اترې،۴ مۍ ۲۰۱۳ء باچا خان پوهنتون چارسده.

(4) انشاء، میا سهېل، ډاکټر د "درد" او "خدائي خدمتګار" ډرامو په حقله تاریخي تېروتنې". مقاله مشموله: "تکتو" پښتو څانګه، بلوچستان یونیورسټي، کوټه، شماره ۸/جلد۴، جولایي ،دسمبر ۲۰۱۲ء، مخ 10.

(5) هم دغه ماخذ مخ 11.

(6) میروېس خان سره خبرې اترې:۴ مۍ ۲۰۱۳ء،باچا خان پوهنتون چارسده.

(7) فدا او نثار د ضلع نوښار د پبو تحصیل د یو کلي بلنډه ملاخان کښې د قاضي (نۀ چې قاري) محمد ادریس زامن وو چې د "خدائي خدمتګار" تحریک کښې زنداني شوي وو. جلیا خان هم په خپل بیت کښې "قاضي صاحب" لیکلی دی. قاري نۀ دی یاد کړی.د انشاء د مقالې د ۱۱-،۱۲ مخونو په حواله.

(8) دا بیت محمد اشرف غمګین خپل تالیف کړې تذکره "د هشنغر ادب" کښې د "جلیا" په نامه درج کړی دی. چارسده، هشنغر پښتو ادبي ټولنه، اول چاپ فروري ۲۳، ۱۹۸۰ مخ (په دغه تذکره کښې د جلیا خان د پیدائش تاریخ لسم مارچ ۱۹۱۰ء لیکلی شوی دی چې سم نه دی.

(9) انشاء میا سهیل (ډاکټر)، مذکوره مقاله ۱۲ مخ.

(10) احمد کاکا،خدائي خدمتګار تحریک (وړومبی ټوک) **۱۹۹۱**ء، **۵۰۴** او **۵۰۵**مخونه.

(11) احمد کاکا،خدائي خدمتګار تحریک، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبربازار پېښور، مخونه **۵۰۲**-**۵۰۹**.

(12) احمد کاکا "خدائي خدمتګار" مخونه **۵۱۵**-**۵۱۷**.

(13) *بدیع الزمان، "امیر نواز خان جلیا پختون قومیت، صحافت اور ادب کا بیباک علمبردار" مملوکہ مقالہ: ڈاکٹر محمد زبیر حسرت۔*

(14) عبد الغفار (باچا خان)، "زما ژوند او جدو جهد" د افغانستان د کلتور او ودې ټولنه، جرمني، پېښور چاپ ۲۰۰۸ء مخونه **۴۲۳**، **۴۲۲**.

(15) *بدیع الزمان، "امیر نواز خان جلیا پختون قومیت، صحافت او ر ادب کا بیباک علمبردار" مملوکہ مقالہ۔ ڈاکٹر محمد زبیر حسرت۔*

(16) د رحمان بابا کلیات، ترتیب او تدوین: دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند، د چاپ ځای پېښور، **۱۹۸۴**ء، مخ **۲۵۰**.